ان الله لا یغیر ما بقوم حتی یغیرو ما بانفسهم
الایه
صدق الله العظیم

په تحقیق سره لوی خدای جل جلاله یوه قوم کې تغیر نه راولي تر څو دوی پخپلو ځانو کې د تغیر اراده ونکړي


بسم الله الرحمن الرحیم
الله اکبر

# افغان ملت

ملي جریده

افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند

Afghanistan Social Democratic Party

د افغانستان ټولنپال ولسواک ګوند خپرونکی ارګان


د ا فغا ن ملت غږ !

مونږ په خپل تاریخي هیواد کې د یو ملي، خپلواک، بې طرفه، په خپلو پښو ولاړ او سرلوړي افغانستان غوښتونکي یو


د ۱۳۹۱ لمریز کال د جدي میاشت   د ۲۰۱۳ میلادي کال د جنوري میاشت   د دریمي دوری ۵ مه ګڼه   Publication of the Afghanistan Social Democratic Party- January 2012


## حج او د لوی اخترقرباني په اسلامي شریعت کې او زمونږ په ټولنه کې


وصلی خان ملاخیل


خدای (ج) د انسان او پیریانو د پیدا ینبت په اړه په قرآن عظیم الشان کې داسې فرمایلي دي *«ما ندي پیدا کړي انسانان او پیریان مګر د خپل عبادت لپاره»*. حج د اسلامي عباداتو څخه یو مهم عبادت او د اسلام د پینځو ارکانو څخه یو مهم رکن دی خو د اسلام د نورو ارکانو سره یې توپیر پدې کې دی چې حج یواځې په هغه چا فرض دی چې اقتصادي توان یې لري. په شریعت کې حج اته شرایط لري:

- اسلام
- ازادي (باید غلام نه وي )
- عقل (باید لیونی نه وي)
- بلوغت (باید صغیر نه وي )
- صحت (مریض نه وي )
- د لیاری او حج ته د رسیدو قدرت او امکانات
- د زنانه لپاره د محرم موجودیت

که چیرته یو مسلمان پدې شرایطو برابر وي باید په خپل ژوند کې یو وار د بیت الله حج ادا کړي.


(پاتې ۴ مخ)


## د ملي قهرمانانو پر وړاندې د ملت مسولیت


ولی حداد فرهاد


لکه څرنګه چې اولادونه د خپلو پلرونو او نیکونو په نقش و قدم باندې پر تللو ویاړل کیږي یو ملت هم داسې مثال لري. افغانستان ته د یو سفر په دوران کې زه د کابل نوي ښار د مرغ فروشۍ کوڅې ته ولاړم او د میرویس نیکه ، احمد شاه بابا او غازي امان الله خان عکسونه مې واخیستل. ما سره پوست کارتونه په لاس کې وو چې یو متعلم مې مخې ته راغی او پوښتنه یې رانه اوکړه چې څه مې واخیستل. ما ورته پوست کارتونه وښودل. دا متعلم د اووم او یا اتم ټولګي زده کوونکی وو. زه ډیر حیران او پریشان شوم چې کله دې متعلم پوست کارتونه وکتل او له ما نه یې پوښتنه اوکړه چې دا څوک دي.


(پاتې ۴ مخ)


## د ولایتي بیا رغوني ټیمونو (پي آرټي ګانو ) لاسته راوړني او نیمګړتیاوې: یوه ارزونه


انجینیر اجمل شمس


د ۲۰۰۲ میلادي کال په اوایلوکې کله چې د ولسمشر کرزي موقتې ادارې په کار پیل وکړ نو ویلی شو چې د صفر نه یې شروع وکړه. دولتي دستګاه عملاً وجود نه درلود یا رنګه شوې وه. د دولتي نهادونو د ړنګیدودا لړۍ د ډاکټر نجیب د دسقوط نه وروسته د مجاهدینو دانارشیزې واکمنۍ ، د قدرت او سیاسي نفوذ لپاره د خپل منځو جګړواو د ګاوندیانو د پرله پسې لاسوهنو له کبله پیل شوې وه . پداسې شرایطو کې ښاغلی حامدکرزی قدرت ته ورسید چې د ولس غوښتنې او هیلې زیاتې وې ولې دولت د خدماتو ورکولو محدود او یا هیڅ ظرفیت نه درلود . نړیوالې ټولنې په ولایاتو کې د خپلو پروژو د پلي کولو لپاره د ولایتي بیارغونې ټیمونو یا پي آر ټي ګانو یو میکانیزم جوړ کړ. دا طبعي وه چې داسې میکانیزم هم د ولس او او هم د نوې ادارې د مرستې نه برخورداره اوسي. (پاتې ۴ مخ)

## د افغان ملت ګوند خواخوږی ارباب دوست محمد خان خلیل مړینه



په افغانستان کې د ثور د کودتا نه وروسته کله چې افغان ملت ګوند په پښتونخوا کې د ځان لپاره د اروابناد شمس الهدا شمس په مشرۍ سیاسي مبارزه پیل کړه نو هلته د شدید مخالفت سره مخ شوه . یواځې یو څوتنظیمونه د افغان مقاومت د سیاسي احزابو په حیث په رسمیت پیژندل کیدل او د افغان ملت په شان ملي ګوند ته نه یواځې دا چې په کوم امتیاز باندې څوک قایل نه وو بلکه د افغان مهاجرینو لپاره د نورې نړۍ نه راتلونکو کومکونو نه هم دغه ګوند محروم ساتل شوی وو . خو بیا هم په خپلې پاکې اسلامي او ملي عزم افغان ملت ګوند په مقدس جهاد کې د خپلو شخصي امکاناتو په حدودو کې فعاله ونډه درلوده. (پاتې ۴ مخ)

مونږ ملي ګټې په شخصي او حزبي ګټو مقدمې بولو - ( د افغان ملت ملي مترقي ګوند )

# سرلیکنه

د افغانستان او امریکې تر منځ امنیتي تړون د دواړو هیوادونو تر منځ د یو څه مودې راهیسې د بحث لاندې دی او نن سبا د هیواد په سیاسي او رسنیزو حلقو کې یوه ګرمه موضوع ده. د یادونې وړ ده چې دا تړون د دواړو هیوادونو تر منځ د لاسلیک شوي ستراتیژیک تړون تر ټولو مهمه برخه تشکیلوي. په ستراتیژیک تړون کې ویل شوي چې «دواړه لوري له خپلو داخلي طرزالعملونو سره سم پر یوې دوه جانبه امنیتي موافقتنامې مذاکرات پیلوي او هدف به دا وي چې په یو کال کې دننه بشپړ شي. دا امنیتي تړون په افغانستان کې د امنیتي پرسونل چې له تروریزم سره د مبارزې، د ملکي او بشر دوستانه مرستو او د نظامي تمریناتو او تعلیم او نورو فعالیتونو په منظور راغلي دي، د حظور د څرنګوالي د ۲۰۰۳ م موافقتنامې او هم د نورو هغو توافقاتو او تفاهماتو ځای ونیسي چې دواړه لوري یې دوه جانبه امنیتي موافقتنامې د احکامو مغایر وبولي.
لاسلیک شوي ستراتیژیک تړون د امنیتي تړون په عمومي ډول تشریح کوي او اصول یې وضع کوي خو دا چې امنیتي تړون به څرنګه چوکاټ رامنځ ته کړي د بحث لاندې دی. طبعي ده چې دواړه هیوادونه به په دې اړه خپل ځانګړي دریځونه لري چې د خپلو هیوادونو د ملي ګټو په بنسټ به یې عیاروي.

ولسمشرحامد کرزي پدې نږدیو کې په ډاګه کړې چې دا تړون به هغه وخت لاسلیک شي چې امریکا د افغانستان حاکمیت او قوانینو ته احترام وکړي. که د افغان ولس د مال او ځان د خوندیتوب، د امنیتي ځواکونو د تجهیز او روزنې او د حکومت په مرسته د افغانستان د هوایي تحریم د ساتنې شرطونه ومنل شول افغانستان لیوال دی چې امریکایي ځواکونو ته د قضایي مصونیت مسله په پام کې ونیسي. بله مهمه مسله چې ولسمشر وربادې ټینګار کوي د زندانیانو مسله ده چې امریکایي نظامیان به څوک نه بندیانوي او نه به دا حق لري چې زندانونه رامنځ ته کړي او نه به په کلو او کورونو بمباري کوي. د امنیتي تړون په باب د ولسمشر دریځ د هیواد د ملي حاکمیت لپاره مهم اساس دی او ښکاره ده چې په خپلواکۍ مینن افغان ولس به ترې پوره ملاتړ کوي.

په امریکا کې د ولسمشر اوباما د دویم ځل ټاکل کیدل د افغانستان په باب د دغه هیواد د پالیسیو د تسلسل لپاره یو ښه تصادف او فرصت دی. دواړه هیوادونه کولی شي د دې فرصت نه په استفادې سره دامنیتي مسولیتونو د انتقال د بهیر د بریالیتوب او پرمختګ تر څنګ په امنیتي تړون باندې هم موافقه اوکړي تر څو د دواړو هیوادونو ملي ګټې خوندي وساتل شي. بله اساسي خبره داده چې د دې امنیتي تړون په نتیجه کې باید په سیمه کې د منفي رقابتونو او تاوتریخوالي پر ځای د ترهګرۍ پر ضد یوه ګډه ستراتیژي رامنځ ته شي. دا چې پاکستان «د ناټو نه باندې د امریکا ملګرې هیواد» (Non-Nato Ally) دی او افغانستان هم دغه موقف ترلاسه کړی نو امریکا باید په پاکستان باندې د خپل نفوذ نه په استفادې سره د دې هیواد هغه تشویشونه رفع کړي چې ګڼي دا تړون به د پاکستان لپاره امنیتي ګواښ اوسي بلکه دا تړون یواځې د د تروریزم د مخنیوۍ او د افغان امنیتي ځواکونو سره د مرستې او د دوی د روزنې په خاطر کیږي تر څو په سیمه کې ثبات رامنځ ته شي چې د هر چا په ګټه دی.

## پاتې: حج او قرباني په اسلامي ......................

د نبي اکرم (ص) نه یو ځل پوښتنه اوشوه چې کوم عمل بهتر دی؟ هغه اوفرمایل «الایمان بالله» یعني په الله ایمان لرل. بیا ترې پوښتنه اوشوه چې د هغې نه وروسته کوم عمل بهتر دی. وې فرمایل «الجهاد في سبیل الله» یعني د الله په لیار کې جهاد کول. بیا ترې پوښتنه اوشوه چې د هغې نه وروسته کوم عمل بهتر دی. وې فرمایل «الحج مبرور» یعني حج چې پکې د ګناه نه ځان ژغورل شوی وي. د بیت الله نه د طواف په دوران کې د هر قدم په اینښودلو د مسلمان ګناه لیرې کیږي او مقابل کې ورته نیکي لیکل کیږي. په بیت الله کې یو لمونځ په لکونو مونځونو حسابیږي او همدا راز په مسجد نبوي کې یو لمونځ په زرونو لمونځونو حسابیږي. د حج په باره الله پاک داسې فرمایلي دي «او نیکي کوۍ او بیشکه چې خدای (ج) محبت کوي له نیکو کارو سره او پوره کړۍ حج او عمره د الله لپاره ط».

همدا راز د کعبې شریفې د طواف تر څنګ د صفا او مروه تر منځ د شریعت د اصولو په چوکاټ کې مزل کول د حج له ارکانو څخه مهم رکن دی. صفا او مروه په مکه مکرمه کې د کعبې شریفې تر څنګ هغه دوه غونډۍ دي چې حضرت ابراهیم علیه السلام خپله میرمن هاجره بي بي د خپل زوی حضرت اسماعیل علیه السلام سره د همدې دوه غونډیو تر منځ پریښودل. هاجرې بي بي د تندې او اوبو د نشتوالي د کبله د دې دوه غونډیو تر منځ منډې رامنډې کړې چې پایله کې الله پخپل قدرت د حضرت اسمعیل (ع) د پښو په وهلو سره د زم زم چینه روانه کړه چې اوس ترې د نړۍ ټول مسلمانان د حج د مراسمو پر مهال د تبرک لپاره اوبه څکي.

مشرکانو د صفا او مروه غونډیو په سرونو د (اسافه) او (نایله) په نامه بتان نصب کړي وو چې دوی به یې عبادت کاوه. کله چې د اسلام مقدس دین ظهور وکړ نو مسلمانانو دا دواړه بتان مات کړل او د صفا او مروه د غونډیو په اړه ورسره ځینې تشویشونه پیدا شول نو خدای (ج) دا آیت نازل کړ: (ان الصفا والمروه من شعایر الله. فمن حج البیت اوعتمر فلا جناح علیه ان یطوف بهما و من تطوع خیرا فان الله شاکر علیم) ترجمه: بیشکه صفا او مروه دالله د نښو ځینې دي. نو هر څوک چې اراده د حج اوکړي د بیت الله شریف یا اراده د عمرې اوکړي نو هیڅ ګناه نشته په ده باندې په دې کې چې طواف اوکړي پدې دواړو او هر څوک چې وکړي په خپله خوښه څه نیکي بیشکه الله شکر قبلونکي او خبردار دی.

د حضرت ابوهریره نه روایت دی چې پیغمبر ص فرمایلي دي (عن ابي هریره قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من حج فلم یرفث ولم یفسق عفر له ما تقدم من ذنبه) ژباړه: (ابو هریره (رض) وایي رسول الله (ص) وفرمایل: چا چې حج وکړ او د ښځو سره یې د شهوت خبرې ونکړې او نه یې فسق وکړ نو هغه د ټول ګناهونه ورته ښښل کیږي.)

د اوسنۍ زماني مسلمانانو او په خاص ډول حاجیانو ته دې خدای هدایت اوکړي ځکه چې د حج او د لوی اختر د قربانۍ نه رواج جوړ شوی دی او ځینې مسلمانان حج او قرباني یواځې د عبادت لپاره نه بلکه د ریا لپاره هم کوي. هدف یې دا وي چې په ټولنه کې یې عزت زیات شي او خلک ورته حاجي صاحب ووایي. ځینې د حج اهداف او مقاصد نه پیژني او د حج په ساتلو او تحفظ باندې آګاه هم نه اوسي او په دې هم نه پوهیږي چې د حج اصل معنی او مفهوم څه دی، او حج فرض دی او که واجب او که سنت؟ فقط منظور یې دا وي چې په پینځو کې حساب شم. د فسق، فساداو نا مشروع کارونو څخه خودداري نه کوي. د ا رنګ حجونه د ثواب پر ځای مسلمان په عذاب اخته کوي چې په عامیانه اصطلاح کې خلک داسې شخص ته «حاجي برباد وایي».

زمونږ دولتي اداره چې د حج د تنظیم چارې د حج او اوقافو د وزارت له لیارې پر مخ بیایي هم د ډیرو نیمګتیاوو سره مل ده. د مثال په ډول معتبر او بهتر هغه څوک دی چې ډیر مال او دولت ولري او یا په دولت کې ستر مقام او چوکۍ ولري. د داسې کسانو بیا د حج او اوقافو لخوا د حج په مراسمو کې خاصه پاملرنه کیږي. د داسې کسانو نومونه په لمړي سر کې د قره کشۍ کې نوم راوځي او کارونه یې له بې له کوم خنډ او ځنډ مخ پر وړاندې ځي. بل هغه څوک چې په وزارتونو کې په لوړو پوستونو کار کوي، دو لسي جرګې غړي اوسي او یا د مشرانو جرګې غړي نو نه یواځې دا چې د د دولت د امتیازاتو نه برخورداره دی بلکه ټولو خپل خپلوانو ته هم د حج د تلو اسانتیاوې برابروي. خو د حج اصلي مزه خو پدې کې ده چې یو مسلمان په خپل زیار او پخپلو حلالو پیسو د حج فرض ادا کړي.

د لوی اختر د قربانۍ نه هم اوس یو رواج جوړ شوی دی. قرباني په اصل کې واجب ده او دا مسلمانانو ته د حضرت ابراهیم علیه السلام نه پاتې ده. قرباني باید یواځې د خدای پاک د رضا لپاره اوشي خو زمونږ په ټولنه کې ډیر داسې اشخاص شته چې په اقتصادي لحاظ پرې قرباني واجب نه وي خو یواځې د ګاونډي د رقابت لپاره په قرض قرباني کوي او بله خبره داده چې اسلام کې اصول واضح دی (ان الاعمال باالنیات) یعنې د عملونو بنسټ په نیتونو باندې دی. نو که څوک د ریا لپاره قرباني کوي او یا د حج لپاره ځي نو پدې عمل کې د ثواب پر ځای ګناه ده ځکه چې دا غیر مشروع رقابت دی او د اسلام مقدس دین هر غیر مشروع رقابت ردوي. خدای دې مونږ ټولو مسلمانانو ته په سمه او د شریعت په اصولو برابره لیار د تلو هدایت په نصیب کړي. (آمین)

# د ارواښاد شمس الهدا شمس د اووم تلین په مناسبت

وصلی خان ملاخیل

چي کله راته ياد شي زړه زما کوي ژړا
د کوم وخت نه چي وفات شو ارواښاد شمس الهدا

ورځ د دوشنبې وه، اتلسم وه د ميزان
دوه بجي د ورځي وې، اوم د رمضان
د کنړ فضا تغيره شوه؛ چي ترې لاړي دا ښکلا ، ښکلا

مذهب يې حنفي وه، مجاهد ، او مسلمان و
ريښتونی مبارز و ، په سياست کي قهرمان و
د نظم په جوړښت کي وه پياوړی تر هر چا

لوی غر د حوصلې و ، د پامير نه لوړ انسان و
د ټينګ عزم خاوند و ، بهادر او پهلوان و
سپيڅلی لوی پښتون و ، ډېر پابند و د وفا

وطن ورته ډېر ګران و ، ښبرازی باندي عاشق و
دغه يې پاليسي وه، د هوسا ملت شايق و
په دې لار کي پيرو و د غازي امان الله

مصيبت کي ډېر صابرو او په حق يې فيصله کړه
له بدو يې نفرت وه، په ښو يې تلو سه کړه
په لار باندي روان د ميروس او احمد شاه

غازي محمد ايوب وه، ازادی باندي فدا وه
طالب د استقلال او د وطن د ارتقا وه
خدمت د خپل وطن ته ، وه سپاهي توره تر ملا

خادم په حقيقت کي د وطن او د ملت و
په دغي افتخار باندي رئيس د افغان ملت و
د هر افغان خدمت به يې کولو بې مدعا

رقيب به هر څه وايي؛ مګر مونږ ته وه منلی
امتحان يې وه ورکړی؛ جامعه کي و ښاغلی
ګناه يې صرف دا وه چي يې ونکړه سودا

رقيبه ! مخ دي تور شه، ته په څه باندي مغرور يې؟
ښه راته معلوم چي په ټولنه کي منفور يې
پروا مې په تا نشته که شي رئيس الوزرا

په لوی سفر روان شو او زمونږ څني رخصت شو
د خاورو لاندي پټ او هغه ښکلی شخصيت شو
رحم دي په کار دی فضل وکړي پرې مولی !

انسان و ، خامخا به اشتباه ورځني شوي
کامل خو يو الله دی، څه ګناه به ځني شوي
ثبوت به پرې څوک نه کړي؛ د لوی جرم د سزا

ملګرو ! لاس اوچت کړئ چي نصيب يې مغفرت شي
په اخلاص سوالونه وکړئ؛ چي انوار يې اخرت شي
په مزار چي ورودرومې؛ وايه استغفرالله

ريښتيا وينا دي وکړه (( ملاخيله )) په ريښتيا
نه و په کي دروغ، مبالغه او نه رياء
غلبه په رقيب غوارم وايم نصرمن الله

# جنازي

نجات مل

جنګونه دي، مرګونه، جنازي دي دې وطن کي
نومونه دي، تورونه دي، تاپې دي دې وطن کي

د بګی آس په شان ګرځه خپله مخه به دي ګوري
کمرونه، کړليچونه دي، خطرې دي دې وطن کي

د سولې ساه ختلې ده، سکون کوما ته تللی
دودونه دي، اورونه دي، لمبې دي دې وطن کي

قاتل دی که مقتول دی بس دعوه يې په جنت ده
باغونه، جنتونه دي، فتوې دي دې وطن کي

د دعا لاسونه پټ دي، عاطفه په کډه شوي
اهونه، فريادونه دي، خبرې دي دې وطن کي

کالبوتي (نجات مله) بس لحظه، په لحظه راوړي
دارونه دي، سرونه دي، حلقې دي دې وطن کي

## پاتي: د افغان ملت د خواخوږي ارباب دوست محمد خليل ......................

پداسي سختو شيبو کي د پښتونخواه ځيني مشرانو د افغان ملت ګوند سره خپلې اړيکي ساتلې او په يو يا بل شکل به يې مرستې هم کولې. همدا وه چي ارباب سکندر خان خليل ، چي وروسته بيا په شهادت ورسول شه ، د ارواښاد شمس الهدا شمس ته د مرستې لاس ورکړ او د ارباب دوست محمد خان خليل نه يې هيله وکړه چي د شمس صاحب او د دوه د ملګرو سره تر خپله وسه مرسته اوکړي. وروسته بيا د ارباب صاحب اړيکي د شمس صاحب سره ډيري نيږدي شوې چي د پښتونولی بهترين مثال يې جوړ کړ. ارباب دوست محمد خان خليل د پاکستان د مرکزی وزير ارباب نياز محمد خان خليل زوی او د پښتونخواه د ايالت د وزيراعلي ارباب محمد جهانګير خان خليل وراره وو او په قومي او سياسي لحاظ د ډير نفوذ خاوند وو .

افغان ملت ګوند سره د مهاجرينو په صفت مرستې پيل شوې . ارباب صاحب د افغان ملت ګوند سره د مرستو په وجه د پاکستاني چارواکو د سخت مخالفت سره هم مخامخ شو تر دې چي ده ته د مرګ او ترورو اخطارونه هم ورکړل شو خو ارباب صاحب په خپل عزم کي همداسي ثابت پاتي شه او د پيښور د مهاجرينو د چارو د تنظيم د رييس په توګه يې د افغان ملت ګوند سره مرستې پيل کړې. همدا وه چي افغان ملتيانو لږ څه آرام ساه واخيستله او سياسي مبارزه فعاله شوه.

ارباب دوست محمد خان خليل د روان ميلادي کال د مارچ په ۲۸ مه د دې فاني دنيا نه سترګي پټي کړي چي دا د پښتونخوا د مشرانو لپاره ستره ضايعه ده . افغان ملت ګوند پدې غم کي پوره شريک دی . افغان ملت ګوند به د ارواښاد ارباب دوست محمد خان خليل خدمتونه او احسانونه هيڅکله هير نکړي .. افغان ملت ګوند ارباب صاحب ته جنت فردوس غواړي ، روح دې ښاد اوسي.

## پاتې: د ولایتي بیا رغونې ټیمونو ....................

ولایتي بیا رغونې ټیمونو د هیواد د نورو ولایتو پر پرتله په سرحدي ولایتونو کې ډیر فعال وو ځکه چې د دې ولایاتو سیاسي اهمیت او د مخالفینو د بیا راپورته کیدو قوي احتمال موجود وو . بله دا چې حکومت دخپل قدرت د مشروعیت او غزولو په خاطر په دې ولایاتو کې میشتو ولسونو سره تړون ته ډیره لیوالتیا درلوده .

د یوې لسیزې نه زیاتې مودې د فعالیت نه وروسته د انتقال د بهیر په چوکاټ کې په تدریجي توګه د  پي آر ټي ګانو د منځه وړلو لړۍ پیل شوې ده. د یادونې وړ ده چې د ولسمشر **۴۵** م فرمان هم د پي آرتي ګانو د منځه وړلو حکم ورکوي. پدې مرحله کې دا اړینه ده چې  د پي آر ټي ګانو د لاسته راوړنو، د افغانانو په ژوند د دوی د اغیزمنتوب او هغه څه باندې وغږیږو چې د پي آر ټي پروژو نیګړتیاوې یې بللی شو .

د پي آر ټي پروژو زیات تمرکز په زیربنا باندې وو چې د ترانسپورت سکتور تر ټولو زیات د اهمیت وړ وو  ورپسې اداري ودانۍ ، روغتیایي مرکزونه او ښوونځي د ډیر اهمیت وړ وو. سرکونه او پلونه نه یوازې د خلکو او اجناسو د چټک انتفال لپاره اړین وو بلکه د هیواد په مختلفو سیمو کې دد امنیتي ځواکونو لپاره د اکمالاتو د چټکتیا وسیله هم وه. پي آر ټي ګانو په زرګونو کلومتره سرکونه او سلهاو پلونه د هیواد په بیلابیلو سیمو کې جوړ کړل چې د کابل سره یې تړل نه یوازې د امنیت له نظره بلکه د پرمختیایي هلو ځلو لپاره هم اړین وو.

د ولسمشر کرزي د موقتې ادارې په اوایلو کې په ولایاتو کې دګوتو په شمار اداري تعمیرونه  وو او هغه هم  په ډیر خراب حالت کې . ددې لپاره چې  حکومت خپل مشروعیت تر لاسه کړي دا اړینه وه چې دولت د خپلو چارو پر مخ وړلو لپاره هم د ولایاتو په مراکزو کې او هم په ولسوالیو کې فعالې ودانۍ ولري . د ځینې نیمګړتیاوو سره سره پي آر ټي ګانو دستاینې وړ ګامونه پورته کړل. د یادونې وړ ده چې  په هیواد کې د فعالو پي آر ټي ګانو کې د بودیجې او هم د پرمختیایي او بشري پروژو د جوړولو او تنظیم د ظرفیت له نګاه نه د تر ټولو مطرح د امریکا پي آر ټي وه.

که څه هم پي آر ټي ګانو ولایتي ادارو سره په لږ یا ډیر تفاهم کارونه پر مخ وړل چې د ولایت اړتیاوې او لومړیتوبونه یې ورته په ګوته کول ، د پروژو د پلانګذارۍ ، ډیزاین او تطبیق په مراحلو کې د ولایاتو نقش دومره بنسټیز او فعال نه وو. د دې غټه وجه دا وه چې ولایتي ادارو کم ظرفیت درلود او مرکز سره یې ارتباط هم دومره قوي نه وو . پداسې حال کې چې مرکزي اداره د ولایاتو د پرمختیایي چارو د پلان او تنظیم یوازینۍ مشروع مرجع ده . بیا هم یو ولایت تر بل ولایت توپیر درلود .  د ولایتي چارواکو کاري کفایت او ظرفیت د پي آر ټي ګانو د لیارې د ولایتي پرمختګ د مسیر ټاکلو کې اغیز من وو . داسې مثالونه شته چې د والي صاحبانو د ښه کفایت له کبله د پي آر ټي ګانو  تمویل ډیر موثر وو او همغږي زیاته وه. ننګرهار او کنړ ښه مثالونه دي چې د ښاغلي ګل آغا شیرزي  او ښاغلي فضل الله واحدي د فعال نقش له کبله د پي آر ټي ګانو مرستې تر یو حده په اغیزمنه توګه په مصرف رسیدلي دي.

که څه هم د زیربنایي خدماتو د اماده کولو لپاره د پي آر ټي ګانو میکانیزم یو په ځای حرکت وو خو د نیمګړتیاوو نه هم خالي نه وو. پي آر ټي ګانو په زیات تعداد کې پروژې داسې شرکتونو ته ورکړې چې محدود  یا هیڅ ظرفیت او تجربه یې نه درلوده . دې شرکتونو  د داسې مالي منابعو ، تخنیکي ظرفیتونو او تجهیزاتو ادعا درلوده چې اصلاً یې نه درلودل. خو پي آر ټي ګانو کم تخنیکي او نظارتي منابع درلودې  تر څو د شرکتونو دقیقه څیړنه اوکړای شي. په نتیجه کې ډیرې پروژې د داسې شرکتونو لاس ته ورغلې چې کفایت یې نه درلود خو د ټیټ ترین قیمت په ورکولو یې پروژې لاس ته ورغلې.  پي آر ټي ګانو  په تدریجي توګه انکشاف وکړ او خپل تخنیکي ظرفیتونه یې لوړ کړل . د امریکایي نظامي انجینرانو د ادارې په راتللو سره تر ډیره حده د پي آر ټي د پروژو کیفیت لوړ شوی ځکه شرکتونه مکلف کړای شول چې د پروژو  په  تطبیق  کې  ځانګړي  تخنیکي  مقررات  او معیارونه په نظر کې ونیسي. خو د دې ټولو ګامونو پورته کولو سره سره د پي آر ټي پروژو  قیمت غیر اقتصادي پاتې دی   چې عمده عوامل یې د مربوطو  تعمیراتو قوانینو ، مقرراتو او معیارونو نشتوالی او یا عدم نفاذ دی خو له بلې خوا د افغاني شرکتونو د حد نه ډیر حرص هم د لوړو قیمتونو باعث ګرځیدلی دی.

که څه هم د پي آر ټي د پروژو کیفیت د سوال لاندې دی خو مثبت اقتصادي اغیز یې د یادونې وړ دی. د پي آر ټي د پروژو د تطبیق په نتیجه کې په زرګونو فني او غیر فني کارګرو او انجینیرانو ته د کار زمینه پیدا شوه چې په عمومي توګه یې د افغانانو په ژوند مثبته اغیز اچولې دی. خو باید هیر نکړو چې همدې اقتصادي تحرک یوه اجتماعي ستونزه هم زیږولې ده. د مثال په ډول د پروژو یوې چټکې داوطلبۍ پروسې دې ته زمینه مساعده کړې چې ډیرافغاني شرکتونه په لږ وخت کې سرمایه دار شول او اجتماعي رقابتونه یې وزیږول . بل طرف ته د پي آر ټي ګانو د خپلو خپلوهیوادونو مربوط قوانین او مقررات په نظر کې نیول او افغاني قوانین او مقررات په نظر کې نه دي نیول شوي .   خو بل طرف ته تقریبًا ټولو پروژو د دولایتي ادارو منظوري درلوده نو ځکه د قانونمندۍ مسله نه مطرح کیږي.

د پي آر ټي پروژو بله عمده ستونزه د دوی د دوام او حفظ و مراقبت مسله ده .  افغان حکومت په نږدې راتلونکي کې باید د هغه ټولو پروژو چې د پي آر ټي ګانوله خوا د هیواد په بیلا بیلو برخو کې تطبیق شوي پوره معلومات تر لاسه کړي تر څو د دوی د مالکیت او تنظیم چارې د مربوطو ولایتي سکتوري ریاستونو ته وسپارل شي.

دا هم د یادونې وړ ده چې د پي آر ټي ګانو کاري پالیسي پر چټکۍ سره پلان شوې بودیجه مصرفول وو او د افغانستان اوږدمهال ملي پرمختیایي پلان په نظر کې ندی نیول شوی. خو بیا سوال پیدا کیږي چې آیا داسې کوم پرمختیایي پلان په خپل وخت سره وجود درلود . د افغانستان د پرمختګ ملي ستراتیژي په ۲۰۰۸ میلادي کال کې تکمیل شوه نو ځکه دا ممکنه نه وه چې د پي آر ټي ګانو پروژې د داسې یو پلان منتظر اوسې ځکه ولس په عاجله توګه خدماتو ته اړتیا درلوده.

د ټولو نیمګړتیاوو او ستونزو سره سره د  پي آر ټي ګانو لخوا د هیواد په بیلابیلو برخو کې د یادونې وړ زیربنایي او پرمختیایي پروژې تطبیق شوې چې د افغانانو په اجتماعي او افتصادي ژوند یې ډیر مثبت اثرات اچولي چې د یو متشکر ملت په صفت  د هغو هیوادونو نه مننه اوکړو چې د د پي آر ټي ګانو له لیارې یې داسې پروژې تمویل کړي او تطبیق کړي.

## پاتې: د ملي قهرمانانو پروړاندې ....................

دا چې زه د پاکستان نه راغلی وم او د پاکستاني پیسو لوټونه مې په جیب کې درلودل نو هغه مې را وویستل او د هغه متعلم نه مې پوښتنه اوکړه چې په دې لوټونو د چا عکس دی . هغه سمدستي جواب راکړ چې دا قایداعظم دی.
ما له ځان سره فکر اوکړ چې که چیرې مونږ هم په خپلو لوټونو ، تعمیرونو ، مکتبونو او کتابونو د خپلو ملي مشرانو او بنسټګرو عکسونه درلودی نو نن به له داسې سوال او ځواب سره نه مخامخ کیدی . د یادونې وړ ده چې دا متعلم په افغانستان کې زیږیدلی او لوی شوی وو. زما نیوکه په دې متعلم نده . زما هدف دا دی چې باید مونږ  خپل ملي مشران وپیژنو ځکه چې دا زمونږ مسولیت دی . هر ملت ځینې داسی ارزښتونه لري چې هغه د ملت د ټولو افرادو شریک وي او ټول ورته یو شان احترام لري. یو څو کاله وړاندې یو شخص د غازي امان الله خان په اړه غیر قابل تحمل کلمات استمال کړل او بد رد یې وویل پدې اساس چې دموکراسي او د بیان آزادي ده  او څوک چې څه وغواړي ویلی یې شي. خو داسې نده. دا صحیح ده چې په دیموکراتیکه ټولنه کې د بیان ازادي شته خو هر څه خپل معیارونه او حدود لري . هند او امریکا د ولسواکو هیوادونو بهترین مثالونه دي. آیا په امریکا کې څوک داسې ادعا کولی شي چې جارج واشنګټن د امریکا بنسټګر ندی  او یا په هند څوک داسې وایي چې ګاندهي د هند ملي مشر ندی. نه هیڅکله نه.
په هر هیواد کې ځینې داسی معنویات او واقعیتونه وجود لري چې هیڅوک ترې سترګې نشي پټولی لکه څوک نشي کولی ځان ته خپل پلار وټاکي. همدا حال د یو ملت دی. عجیبه خو داده چې زمونږ د ملي مشرانو په اړه د نورو هیوادونو په کتابونو کې زیات تر معلومات دي.
یوازینۍ لیار چې زمونږ ځوان نسل د خپلواکۍ په اصلي معني پوهولی شي هغه داده چې مونږ خپل تاریخ ته مراجعه اوکړو . یو وخت مونږ د اصفهان نه تر ډیلي پوري حکومت کوه. اوس نور هیوادونه په ښکاره زمونږ په داخلي چارو کې لاسوهنه کوي . مونږ خپل تاریخ ته باید د یو ملت په حیث اوګورو ، خپل کلتور ته وده ورکړو او د خپلو ملي مشرانو احترام اوکړو.
که چیرې مونږ ټول ملت په ملي ارزښتونو لکه ملي سرود ، بیرغ ، اساسي قانون ، ژبې ، دین او ملي مشرانو باندې هم نظر او نه اوسو نو بیا بهرنیان چې څرنګه اوغواړي مونږ د خپلو ګټو لپاره استعمالولی شي . لکه څرنګه چې مو لیدلي چې مونږ شاید یوازینی ملت اوسو چې په ډیره اسانه خپلو ملي ارزښتونو ته تغیر ورکولی شو پداسی حال کې چې ملي ارزښتونه د ملت هویت ټاکي.  راځۍ چې په داسې څه  فکر اوکړو چې زمونږ په ګران هیواد کې یووالی ، **خپلواکي** ، نیکمرغي او پوهه راولي.

## د افغان ملت ملي جریده

د تاسیس نیټه:   **۱۳۴۵**المریز کال
د ګوند موسس:   دیپلوم انجینیرغلام محمد فرهاد
د ګوند رییس:   دیپلوم انجینیراجمل شمس
عمومي منشي:   وصلي خان ملاخیل
د امتیاز خاوند:   د افغان ملت ملي مترقي ګوند
چلوونکی:   فرهنګي کمیټه
د ټیلیفون شمیره:   **۰۷۹۵۹۵۹۴۹۳**
د پوستې ادرس:   پست بکس **۵۵۹۵** کابل افغانستان

**Afghanistan Social Democratic Party**
Founded by: Eng. Ghulam Mohammad Farhad (1966)
President: Eng. Ajmal Shams
Postal address: PO Box 5595, Kabul, Afghanistan
Tel: +93 (0) 795-959-493
E-mail: afghanmillat@afghanmillat.org
Website: www.afghanmillat.org